دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردګ

۲۷ جنوری ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۸

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**دیارلسمه مسئله**

داده: چې دمنکر اونکیر سوال حق وبولی. اوهرڅوک چې یی حق نه بولی ، هغه قدری دی اوهواداره. ځکه چې رسول علیه السلام ویلی: کله چې مړی په قبر کی کښینول شی، دوی فرشتی له ازرقانو او اسودانوتورمخی اوشین سترګی ورته نیږدی راشی. او اوربې له خولی راوزی.دود یی له سپوږموڅخه راوزی. اوځمکه پخپلو اوښکوسره داسی څیروبوی چې قبر ته راورسیږی.عزّوجلّ خدای هغه مړی راژوندی کوی ترڅو فرشتی ورڅخه دری سوالونه کوی: لومړی سوال دادی: مَن رَبَّکَ؟ ستا خدای څوک دی؟ دوهم: وایی وَمَا دِینَکَ، ستا دین څه دی؟ اودریم: وایی: وَمَن نَبِیِّکَ اوستا پیغمبرڅوک دی؟

که ځواب په صواب(روا) ووایی،نیک بخت دی. اوکه یی په صواب ونه وایی نو بد بخت دی. اودرسول علیه السلام ځلورزامن و: قاسم وطاهر وطیب اوابراهیم. څرنګه چې ابراهیم وفات شو . رسول صلی الله علیه وسلم دهغه په قبر وویل: قُل اَبِی، قُل اَبِی. زما پلار، زماپلار. دخدای درود اوسلام دی وی پرده او اولادو اویارانو اوامت یی تروړځ دقیامت پوری.

یارانو وپوښتل:چې موږ له دی حاله خبرکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې یی ابراهیم په قبر کی کښینوند منکر اونکیر راغلل اوسوال یی تری وکړ: چې مَن رَبَّکُم. ستا خدای څوک دی؟ هغه ځواب ورکړی. بیایی وپوښتل: وَمَادِینُکَ؟ ځواب یی ورکړ. بیایی وپوښتل: وَمَن نَبِیِّکَ؟ دلته لاځوابه شو. پس ماورته تلقین ورکړ: چې ووایه: زما پلار.

یوه ورځ امیرالمؤ منین حضرت عمرخطاب رضی الله عنه، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه سوال وکړ: یا رسول الله! کله چې ومرم اوما په قبرکی کښیږدی اومنکراونکیر له ما وپوښتی. زه به په همدی حال کی وم اوعقل به می هم راسره وی؟ وویل: هوکی وی به. وویل : یارسول الله! زه ورلره بس یم. کله چې عمررضی الله عنه فرمان ترلاسه کړ. هغه یی په قبرکی کښینوند. منکر اونکیر راغلل، اوتری پوښتنی یی وکړی.په یوه لاس یی منکرونیو اوپه بل یی

نکیرونیو. او وویل: پخدای می سوګند ترهغو به مو ایله نکړم ترڅوراته ونه وایاست چی ستاسو خدای څوک دی؟ یوبل ته یی وکتل اوتبسم یی وکړ او وویل: عمر دی اولاړل.

پوښتنه وشوه چی سوال به تن لره وی اوکه روح لره؟ځینو وویل تن لره اوځینو وویل روح لره.

ولی معتزله دقبر له عذابه منکردی اووایی: مونږ نه پوهیږوچی وروسته دحیاة له زواله چی بنده وچ(جامد) شی لذت اوالم به څرنګه وی.

بیاهم اهل سنت اوجماعت دقبرپه عذاب قایل دی ځکه چی دخدای تعالی عزّوجلّ کتاب اودمصطفی علهی الصلواة والسلام اخبار پدی سره ګویا دی.چی خدای تعالی ویلی: مِمَّا خَطِیئاتِهِم اَغرِقُوآ فَادخِلُوا نارا. داسی خبردی چی کله مو دنوح علیه السلام مرقوم په اوبو کی غرق کړ اوپه اورمو ونیو. هغه حال ماضی ته واچاوه له اغراق اوله قدرت څخه یی خبرورکړ چی هغوی داور اوبوترمنځ سوزیدل.

دآل فرعون په کیسه کی یی یادون کړی: اَلنَّارُ یُعرَضُونَ عَلَیهَا غُدُرا وَّ عَشِیا وَیَومَ تَقُومُ السَّآعَةَ اَدخِلُوا آلَ فِرعَونَ اَشَدَّ الْعَذآب. دوخت نه مخکی یی هغوی اورته ونیول، سهار اوماښام.

اودرسول علیه الصلوآة اوالسلام په اخبارو کی راغلی چی: اِستَنزِهُوا مِنَ الْبَولِ فَاِنَّ عامَة عَذاب القُبور من البَول. وویل: ځانونه له بولو پاک وساتی. په ریښتیاسره چی دقبر عذاب له بول څخه دی.

په خبرکی دی چی: امیرالمومنین علی کرم الله وجهه درسول الله صلی الله علیه وسلم خواته راغی او وویل: یا رسول الله! ستا کا کا ومړ، څه فرمایی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: لاړ شه هغه ته غسل ورکړه. اوپه کفن یی کړه اوپه خاورو یی وسپاره. اوچاته مه وایه ترڅوچی ماونه وینی.!

دمومنانو امیر علی کرم الله وجهه هماغسی وکړل چی رسول علیه الصلوة اوالسلام فرمایلی و اودرسول الله صلی الله علیه وسلم خواته رانیږدی شو. رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغی قبرته راغی اوږغ یی وکړ:ای اکا! دری ځله. جبرئیل علیه السلام راغی اووویل: یا رسول الله ! ته په مړو ږغ نشی اوریدای.

اوس ږغ وکړه! وویل: یا عم! وویل: لبیک یا فرزنده. وویل : هغه څه چی حق وعده کړی وه درته ورسیدل. وویل :نعم. وویل: یاعم! په اورکی ستا حال څه دی؟ وویل: ترنورو پرما آسان دی ستا په حرمت اوشرف! ولی داورکوم نعلونه چی یی راپه پښوکړی، زما دسرماغزه راته په جوش کوی.

پس په همدی دلایلو سره درست شو چی دقبرعذاب حق دی. اورسول علیه الصلوم او السلام ویلی: کله چی مړی په قبر کی کښیښودل شی، ډیری عذاب دهغی داهل له ژړا څخه دی. ځکه چی دوی وایی: واسیداه! واشریفا! وا امیراه! فرشته به له پاسه په اور دده په سر وهی او وایی به: ته سید وی! ته شریف وی! ته امیروی!

اومړی به وایی : چی کاشکی له دی ژړا لاس په سرشی.

اوډیرخبرونه راغلی په دی باب کښی. ولی معتزله وایی: جماداتولره لذت اوالم نشته.مونږ وایو:چی عذاب حق دی. ولی دلذت اوالم په څرنګوالی نه پوهیږو.هغه به خدای اودهغی رسول ته پریږدو. هغه قادردی هرڅه چی وغواړی اوهر رنګه چی وغواړی کولای شی.

اوټول ځواب دادی: چی دقبرعذاب دآخرت له احکاموڅخه دی نه ددنیا له حکمه. ددنیا په ژوند کی نه موندل کیږی. ایمان راوړو په هستی. څرنګه چی هلته ورسیږو، څرنګوالی به وګورو اوزمونږ اعتقاد دآخرت په هکله همدا دی.

ولی داچی وایی: چی جماداتولره لذت اوالم نشته. مونږ وایو: په هغه وجه دی وی چی خدای عزّوجلّ غواړی.

په دی دلیل چی : په مدینه کی مصطفی صلی الله علیه وسلم خپله مبارکه شاه دکورپه ستنه موښلولی وه اوخطبه یی لوسته اوخلکو ته یی وعظ کاوه. کله چی خلک ډیرشول اورسول الله صلی الله علیه وسلم بی طاقته شو وویل ماته یوڅه

راوړی،چی پرکښینم.څوکی یی جوړه کړه په دریو پښو. رسول علیه الصلوة او السلام په هغی کرسی کښیناست ترڅو خطبه ووایی: هغه ستنه په ژړا شوه. داسی لکه چی غوا خپل بچی ورک کړی وی، او صحابه رضی الله عنهم اجمعین هم په ژړاشول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له منبره راکوزشو، اوهغه ستنه یی په غیږکی ونیوه او وویل: کوم یو غواړی؟ داغواړی چی دعا وکړی چی شنه شی! اوخرما راوړی، ترڅو ترقیامته مومنان له تا وخوری. ! یا داچی له خدای عزّوجلّ څخه وغواړم ترڅوتا په جنت کی دخرما شنه ونه وګرځوی، ترڅو اولیاءالله له تاوخوری.؟

هغی ستنی ځواب ورکړچی : یارسول الله! دبقا سرای غوره ګڼم چی پکی اوسم، دا دفنا سرای دی.

رسول علیه الصلوة اولسلام مخ صحابه ته راواړاوه او وویل: دا لرګی دی ،نه غوره اونه هم دم، نه پری امراونه پری نهی. ولی دبقاء سرای یی دفنا په سرا ی غوره کړ. تاسوته هم غوره ده چی دبقا سرای دفنا په سرای غوره کړی.

داچی یوجامدشی چی هیڅکله دحیاة خاوند نه و حق تعالی پکی حیوة واچاوه. اوکه داپه هغه شخص کی واچوی چی لومړی حیوة و، ولی به روا نه وی؟

اوهغه مسمومه سیرلی چی یوه جهودی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړی وه. رسول الله صلی الله علیه وسلم هغی ته لاس وروړ ترڅو یوه ګوله تری پورته کړی. هغی سیرلی په خبرو راغله او وویل: یارسول الله! لَا تَأكُلنِی فَاِنِّی مَسموم. وویل: له ما مخوره،چی په زهرویی ککړه کړی یم. اوهغه سیرله په څوسببونو سره مړه وی.

پس هغه خدای چی سیرله چی په څو سببوسره مړه وه،په خبرو راوسته، قادر دی چی مړی هم په قبرکی په خبرو راولی.

اما عقلی دلیل دادی: چی هره ذره چی په هواکی ښوری، حق تعالی قادره دی چی په هغی حیوة او قدرت کښیږدی، اوعلم اولذت اوالم کښیږدی، ځکه چی پردی قادر دی. پس په اتفاق سره هیڅ بعید نه پاتیږی دګوراو اور دعذاب انکارته.

څرنګه چی دګور عذاب ثابت شوپه دی دلایلو چی یاد موکړل. له دی وروسته اصحاب په دی کی په اختلاف کی شول.

ځینو وویل : دګورعذاب همدومره وی،چی په هغی کی دمه کیږدی اوپوښتنی وکړی. بیا مضطجع کیږی.

ځینو وویل: ترڅوچی کالبد په ځای وی، مړی لره عذاب شته، کله چی متفرق شو عذاب هم پورته کیږی.

اوځینو وویل: روح کالبد ته ننه باسی بیا یی عذاب کوی اودابه تکلف وی.

ځواب همدادی چی لومړی مو یاد کړل: ځکه چی مونږ ته دامسئله روښانه شوه. چی په هستی خبرراغلی اوپه څرنګوالی ندی راغلی. اوپه دی مو ایمان راوړ کوم چی حق تعالی غوښتی او ویلی. اوپه هغه څه رسول علیه الصلوة والسلام راوړی او ویلی، په ټولو سره مو ایمان راوړی.

اوپدی کی سِردی اوهغه دادی: چی دګورعذاب عاصیانو اوکافرانو لره دی. اونعمت اولذت مومنانو اومطیعانولره دی. اوپه دی کی سِردی. ځکه چی دمخلوقاتو ولایت په بنده داسی دی لکه چی ژوندی دی. اوکله چی مړ شی نو پرمخلوقاتویی سلطانی منقطع کیږی. اوکه وروسته له مرګه ، خدای عزّوجلّ لره په بنده دغذاب قدرت نه وای، نودقدیم اوحادث قدرت ترمنځ به توپیرنه کیدای.

اوبزرګانو داسی ویلی: چی دنکیراومنکر دسوال اوځواب حکمت په دی کی دی: چی کله حق تعالی فرشتګانو ته وویل: اِنِّی جَاعِلُ فِی الاَرضِ خَلِیفه. ځواب یی ورکړچی: اَتَجعَلُ فِیهَا مَن یُفسِدُ فِیها. حق تعالی وویل: اِنِی اَعلَمُ مَالَا تَعلَمُونَ. څوک نه پوهیدل چی داعلم کوم دی؟ ترهغی چی مومن ته اځل راورسیږی اوحق تعالی زن اوفرزند اومال او اهل اوپلاراوموراوسرای اوبوستان اوټول نعمتونه تری واخلی اوبیل یی کړی. اوروح یی له تنه جدا کړی اوهغه په تنګ

قبرکی په تیارو کی راولی. پس هغه وخت فرشتگانو ته فرمان راشی: چی دوی فرشتی وټاکی اودبنده گورته یی واستوی.

اوهغی ته وایی: له ټولو هغو محنتونو څخه چی ورته رسیدلی وایی: مَن رَبَّکُم؟ وایی: رَبِّی الله. آسمان ته ځی اوفرشتو ته خبرورکوی. بیا حق تعالی هغوی ته بیانوی، چی تاسو په هغی پوری طعن کاوه، تاسو دده جفا لیدله.مایی وفا لیدله.

هرڅومره چی می پری بلاوی وټاکلی، ماته یی زاری اوتضرع ډیر کاو اوله ماسره یی بدل رانه وړ.

همدومره بس دی هوښیارلره.